## خپل هېواد جوړوم (دویمه درجه)

| | |
|---|---|
| **توضيحات** | زده کوونکی به د جغرافيايي او دوديز ځانګړتياوو په نظر کې نيولو سره خپل هېواد ډيزاين کړي. دوی به د خپل تصوري هېواد په اړه کتاب خپور کړي او بيا به د لومړی ځل لپاره د تابعت يو ازموينه په لاره واچوي. |
| **مخکېنه پوهښتنه** | هېوادونه او د دوی فرهنګونه څنګه را منځ ته کيږي |
| **د اړتيا وړ وخت** | ۵ ساعتونه او له ۵ ورو ځو زيات وخت |
| **د اړتيا وړ توکي** | ورقه، قلم، رنګونه (دې ته ترجې ورکول کيږي چې د رفرنس لپاره قاره يا اطلس ولري) |
| **د زده کړې پايلي** | ۱. په دې باندې پوهېدل چې د يو هېواد جوړول څه ځيزونو ته اړتيا لري<br>۲. په هغه ځانګړتياوو ځان پوهول چې يو ملي هويت ترې جوړيږي (ملي بيرغ، ملي څاروی، ملي خواړه، ملي جامې او داسې نور)<br>۳. د نقشو ډيزاين کولو، د جغرافيايي او سياسي ځانګړتياو وړاندې کول<br>۴. په دې پوهېدل چې د يو هېواد د تابعت په لاسته راوړلو کې څه ځيزونه شامل دي<br>۵.د کلتور او څارويو پر ژوند د يو هېواد د موقعيت او اقليم په اغيزو پوهيدنه<br>۶.د څارويو پر تطابق پوهېدل. |
| **مخکې زده کړې** | د زده کوونکو لپاره غوره ده چې د خپل هېواد په اړه په لاندې حقايقو پوه شي: لکه نقشه، جغرافيايي ځانګړتياوې، اقليم، نباتات او داسې نور. |

## لمړی ورځ

نن به تاسو د خپل هېواد د کتاب په لومړی پاڼه کار کوئ.

وړانديز شوې موده: فعاليت او توضيحات

**۵ دقیقې**

- تاسو به خپل هېواد د ټولو ځانګړتیاوو سره ډیزاین کړئ

١

- د هېواد په ځانګړتیاوو کې به سرحد معلوم وي (هغه سیمه چې پولې لري) ملي جامه، ملي خواړه، ملي بیرغ، او ملي حیوان.) ستاسو د خیالي هېواد لپاره باید تاسو د تابعیت ازموینه ډیزاین کړئ تر څو د تابعیت ثابتولو لپاره وکارول شي.

- د هر څه په اړه چې مو طبیعت وي تصور وکړئ، خو ټول باید منطقي وي. تاسو د خپل تصور شوي هېواد لپاره د مطالعې کتاب او پوښتنې پاڼه د ډیزاین کولو لپاره کار وکړئ د هغه خلکو لپاره چې غواړئ ستاسو د تصور شوي هېواد تابعیت تر لاسه کړي.

**۴۵ دقیقې**

د مطالعې د کتاب لومړی پاڼه: پیل یې د خپل هېواد د بشپړ جغرافیایي نقشې له رسم کولو وکړئ او ځینو مهمو پوښتنو ته ځواب ورکړئ. دا مو په یاد وي چې ستاسو دغه انتخاب به ستاسو د هېواد خواړه، کالي، او کلتور وټاکي.

- په ځمکه کې ستاسو هېواد چېرته واقع دی؟ دا په دغه اوو براعظمونو کې کوم دی (شمالي امریکا، سویلي امریکا، افریقا، آسیا، اروپا، استرالیا او انتارکتیکا)؟ آیا دا په سویلي یا شمالي نیمه کره کې دی؟ ایا دا د استوا کرښې (هغه کرښه چې نړۍ په مساوی ډول سره په دوه نیم کره وېشي او په ۰ درجه عرض البلد کې ده) ته نږدې دی او یا هم په شمال یا جنوبي قطب کې دی؟







EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

- دا د یوه ټاپو بېلګه ده لکه نیوزیلنډ، په وچه کې واقع (دواړو طرفونو ته نوره ځمکه) لکه افغانستان —

د جزیرې مثال ا



---

په وچه کې واقع:




- دا ګاونډي هېوادونه او سمندرونه کوم دي؟
- د دغه هېواد لوی جغرافیایی ځانګړتیاوې څه دي د مثال په ډول
- غرونه، سیندونه، جهیلونه، دښتې، استوایي ځنګلونه او داسې نور؟ زده کوونکي باید په دې باندې په نښه یا نومونه پرې کېږدئ لکه د ګوګر جهیل، مالا غر او داسې نور.
- خپل هېواد ته یو نوم ورکړئ، پلازمېنه یې وټاکئ او نوم ورته ورکړئ، د غوره توب په اساس یې ډیزاین کړئ.

**۱۵ دقیقې**



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

د خپل هېواد نقشه په یوه ساده کاغذ رسم کړئ، ګاونډي هېوادونه، نږدې اوبه، د هېواد لرې پرتې سیمې، پلازمینه او هغه جغرافیوي ځانګړتیاوې په نښه او نومونه ورکړئ.

## دوهمه ورځ

نن به تاسو د نباتاتو او اقلیم پر اساس د خپل تصور شوي هېواد لپاره ملي خواړه وپلټئ او جوړ کړئ.

وړاندیز شوې موده: فعالیت او توضیحات

**۵ دقیقې**

تاسو به د خپل تصور شوي هېواد اقلیم د د جغرافیایي موقعیت پر اساس وټاکئ. د مثال په توګه هغه هېواد چې استوا ته نږدې وي استوایی هوا لري، هغه ګرم او مرطوب وي.

- ستاسو په تصور شوي هېواد کې موسمونه او هوا څنګه ده د مثال په ډول آیا واورینه، وچه، باراني، ګرمه او یا هم بل ډول ده؟ ستاسو په هېواد کې تر ټولو لوی طبیعي ناورین څه دی چې واقع کېږي؟ سېلابونه، د تودوخې څپې، وارین طوفانونه او داسې نور...

**۳۰ دقیقې**

د مطالعې د کتاب دوهمه صفحه: د هغه مختلفو موسمونو او هوا د شرایطو رسمونه وباسئ چې تاسو ټاکلي او هر هغه موسم او طبیعي ناورین مو چې انتخاب کړی، لنډه تشریح ورکړئ.

د موسم او هوا د حالت لپاره د انځور یوه نمونه:



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

| لنده تشریح | رسم | | فصل/ او د طبیعي ناورینونه |
|---|---|---|---|
| سپینې واورینې ونې، ځنګلونه او ځمکه پوښلې |  | | ژمي |
| | | | طبعی ناورینونه |


**۳۰ دقیقې**

- د مطالعې د کتاب دربیمه صفحه: محصولات (هغه نباتات چې موږ کولی شو وخورو یا یې د پیسو لپاره وپلورو) چې په هغه هېواد کې شتون ولري د ملي خواړو لپاره همغه اجزاوې دي.

- د ملی خوړو یوه نمونه:



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

| | | |
|---|---|---|
| توكي<br>• توتي شوي کچالو<br>• سبزی<br>• دود ګن ساسيج |  | ستمپوټ |

- د خپل تصور شوي هېواد لپاره ملي خواړه ډيزاين کړئ. د مثال په ډول د **X** هېواد تصور شوی خوراک:

| توکي او د خوړو د پخولو طريقه | د خوړو انځور | د ملي خوړو نوم |
|---|---|---|
| | | |

## درېيمه ورځ

نن ورځ به تاسو د خپل هېواد ملي جامې او فېستول وټاکئ.

وړانديز شوې موده:                فعاليت او توضيحات

۵ دقيقې

- د دې لپاره چې ملي جامې د هوا او اقليم په اساس وټاکل شي نو د ځينو پوښتنو په اړه فکر وکړئ:



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

- اقليم څه ډول دی او څه ډول کالیو ته اړتیا ده؟ د مثال په ډول ګرم ځای چې د دې لمر شعاوې یې مستقیمې وي، خلکو ته به اړتیا وي چې خپل ځان د لمر څخه پټ کړي چې د لمر سوځېدو نه خلاص وي، خو باید داسې رنګونه او تکه ولري چې ګرمي جذب نه کړي.

- د هوا د عناصرو په نظر کې نیولو سره، کوم ډول کالي ډېر ښه ښکاري؟ په صحرا کې چې هلته ډېرې دوړې او باد وي خلک معمولا داسې کالي اغوندي چې وېښتان او سر یې وپوښي. همدارنګه هغه ځایونه چې زیات باران په کې وي د خلکو کالي تر ښنګورو پورې وي تر څو د لندېدو څخه مخنیوی وکړي.

**۳۰ دقیقې**

د مطالې د کتاب څلورمه صـــفحه : د ملي کالیو د ډیزاین او رنګونو په اړه ډېر آزاد فکر وکړئ، هغه رســم کړئ او یو مناســب نوم ورکړئ. د دغه جامو د ډیزاین تر شـــا مو چې څه فکر کاوه، تشـــرېح ورکړئ. که چېرته تاســو علاقمند یاســت، کولی شــئ د ژمي او دوبي کالي هم ډیزاین کړئ.



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

د هوا او اقلیم پر اساس د یو هېواد د جامې بېلګه:

| | په کاناډا کې د جامو اغوستل | |
|---|---|---|
| دوبی |  | دوبی ګرم او مرطوب دی |
| ژمی |  | ژمی په کاناډا کې یخ دی او زیات واوره پکې وي |

دخپل تصور شوي هېواد لپاره ملي جامع

| موسم | د جامو ډیزاین | د جامو تر شا دلیل |
|---|---|---|
| د دوبی جامې | (رسم) | |
| ١ د ژمی حامې | (رسم) | |



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

- د خپل تصور شوي هېواد لپاره ملي جامع ډیزاین کړئ او تر شا یې هغه دلیلونه هم تشریح کړئ.



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

- د خپل تصور شوي هېواد بیرغ ډیزاین کړئ. د خپل موجوده هېواد د بیرغ په اړه فکر وکړئ. هغه معمولاً مختلف رنګونه، سمبولونه، او یا هم ملي سمبولېزم لري. د مثال په ډول د امریکا په بیرغ کې ستوري د اصلی ایالتونو استازولي کوي. د فرانسې د بیرغ رنګ د هغوی د ارزښتونو، ازادۍ، برابرۍ او ورورولۍ استازیتوب کوي. یا د قطر د بیرغ نهه غاښ لرونکی څنډې (زیګزګ) د دې استازیتوب کوي چې دغه هېواد د فارس د خلج د نهم غړي په توګه شامل شوی.

**۲۰ دقیقې**

د مطالعې د کتاب ۵ صفحه: خپل بیرغ رسم او رنګ کړئ او هغه رنګونه، شکلونه،سمبولونه چې په کې مو استمال کړي او اهمیت یې تشریح کړئ.

**د هېوادونو د بیرغ مثالونه:**

| تشریح او اهمیت | هېواد |
|---|---|
| • تور رنګ د افریقا د میراث او د یوګانډا د هېواد څخه استازولي کوي<br>• ژېړ رنګ د لمر د ورځو سمبول دی. د یوګانډا ځانګړتیاوې<br>• سور رنګه د سرې وینې سمبول دی چې د ټولو انسانانو تر منځ یوه مشترکه اړیکه بیانوي<br>• کاکلي جرثقیل د یوګانډا ملي مرغۍ ده. | <br>د یو ګانډا بیرغ |



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link: https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

| | |
|---|---|
| • روښانه آبي شالید د اسمان او اوبو سمبول دي چې په بوټسوانا کي قیمتي تجارتي توکي دي.<br>• په منځ کي دا توره پټه او دواړو طرفونو ته سپیني پټي د دې په معنا دي چې سپین پوستي او تور پوستي یوځای په سوله کي سره ژوند کولی شي.<br>• توري او سپیني پټي د زیبرا سمبول هم دی چې د بوټسوانا مي هېواد دی. | <br>د بوټسوانا بیرغ |

- د خپل تصوري هېواد بیرغ رسم کړئ او د رنګونو، شکلونو، سمبولونو او ارزښت په اړه یي معلومات ورکړئ.

| تشریح او اهمیت | د بیرغ رسم کول |
|---|---|
| | |

## څلورمه ورځ

نن به تاسو د خپل هېواد لپاره ملي حیوان ډیزاین کړئ:

وړاندیز شوې موده: فعالیت او توضیحات

**۱۰ دقیقې**



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

- کله مو چې خپل حیوان ډیزان کاوه، تاسو ته اړتیا ده چې هغه رسم کړئ. تشریح یې کړئ چې دا حیوان د خوړو په سلسه کې څه شی دی، د هغې اناتومیکي او چلند ځانګړتیاوې شریکې کړئ چې هغه د ده سره مرسته کوي په یو ځانګړي اقلیم کې عادت شي.
- د لاندې پوښتنو پر اساس ۱ یا ۲ حیوانان تشریح کړئ او بیا د تصور شوي هېواد لپاره عین کار وکړئ.
- که چیرته زده کوونکی وغواړي، هغوی کولی شي د یوه شته (موجود) حیوان یو دوه رګه نسل د خپل خیالی ځاروي په توګه وټاکي........ ځینې

پوښتنو ته چې باید ځواب ورکړل شي هغه دا دي:

- د هغه ځاروي نوم څه دی؟
- آیا دا د هوا، اوبو یا ځمکې ځاروی دی؟
- آیا دا کورنی یا وحشي حیوان دی؟
- آیا دا ځاروی غوښه خوړونکی یا بوټی خوړونکی دی؟
- د مثال په ډول، سویه هغه ځاروی دی چې نباتات خوري، خو هغه د زمری په شان حیوان ته چې غوښه خوړونکی دی، ښکار دی.
- د هغه ځاروي فزیکي ځانګړتیاوې څه شی دي چې د هغه سره مرسته کوي په هغه اقلیم، جغرافیه او ښار سره عادت شی. د مثال په ډول، پښې یې ځانګې جوړې شوې چې له ګرمو شګو څخه یې ساتي، وېښتان یې په صحرا کې د ژمي له یخنی څخه ساتي، اوښ د اوږدې مودې لپاره اوبه ذخیره کوي ځکه چې په صحرا کې په آساني سره اوبه نه پیدا کیږي، رنګ بدلوی شي ، په ولاړې ویده کیږي ترڅو له ښکار څخه تېښته وکړي، ډبله ژبه لري چې کولی شي اغزی لرونکي پاڼې وخوري.
- د دغه ځاروي ځانګړې صفات څه دي؟ په سخته هوا کې څه کوي؟ مهاجرت کوي او که د ژمي خوب کوي؟ چېرته ژوند کوي: په ونه کې یا په شنو ځایونو کې؟ د خپلو ماشومانو څخه څنګه ساتنه کوي: هګۍ اچوي؟

- د ملی ځارویو مثالونه:

| | |
|---|---|
| اناتومیکي او سلوکي عادتونه | د آسترالیا ملي حیوان |



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

| | |
|---|---|
| د استراليا ملي ځاروی سره کانګرو ده. سره کانګرو د صحرا د استوګنې لپاره لاندې تطابقونه لري<br><br>● تل د ښکار څخه د محافظت لپاره په ډله کې سفر او خوراک کوي.<br>● په عمده توګه په سهار او ماښام کې فعال دي.<br>● په ګرمه هوا کې خپل لاس څټي ، چې د تبخیر په واسطه د دوی د بدن ګرمي را کموي<br>● کوچنیان یې په کڅوړه کې وړل کېږي. دا د کوچنیانو د ژوندي پاتې کېدو چانس زیاتوي.<br>● دا سره ویښته د لمر د وړانګو ۳۰٪ بېرته انعکاس کوي، دا د دوی سره مرسته کوي چې په صحرا کې یخ شي<br>● جمپ وهل انرژي ساتي<br>د دوی کولمې اوبه بیا جذبوي له کمو شته اوبه څخه زیات کار اخلي<br>● نارینه یې په ډله کې واکمنۍ لپاره جګړه کوي او ښځینه یې یوازې له غالب نارینه سره یوځای کېږي.<br><br>سرچینه:<br>https://venngage.net/p/111751/red-kang aroo-adaptations-tess-kane |  |



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

| | |
|---|---|
| | سره کانګرو د استرالیا د هېواد د ملي ځاروي په توګه ټاکل شوی، ځکه چې دا حیوان شا ته نه خېز وهلی شي او نه هم حرکت کولي شي. دا د استرالیا عزم په ګوته کوي چې یو ملت په توګه موږ باید یوازې مخ ته حرکت وکړو. |



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

۱۰ ددقیقې

- که په یو ځنګل کې ځلور زمریان ژوند کوي او په یوه میاشت کې ۱۰ هوسۍ خوري ؟ په یو میاشت کې یو زمری څومره هوسۍ خوري، داسې ونګري چې هر یو زمري یو رقم خوراک کوي

که یو سویه په یو ساعت کې ۱۰ کیلو میتره منده وکړي



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link: https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

- که یوه حوسۍ په یو ساعت کې ۱۰ کیلو میتره منډه وکړي، په ۱،۵ ساعتونو کې به څومره منډه وکړي؟ (اشاره: واټن.... سرعت = واټن)

**۴۰ دقیقې**

د مطالعې د کتاب ۶ صفحه: خپل تصور شوي ښاروي رسم کړئ، د هغه په اړه یو پرګراف ولیکئ او پورته ټولو پوښتنو ته ځواب ورکړئ.

د تصورشوي هېواد لپاره ملي حیوان

| اناتومیکی او سلوکي تطابق | د تصورشوي هېواد لپاره ملي ښاروي |
|---|---|
| | رسم |

**پنځه ورځ**

نن به تاسو د تابعت د ازموینې لپاره د پوښتنې او ځواب پانه ډیزاین کړئ.

وړاندیز شوې موده: فعالیت او توضیحات

**۲۰ دقیقې**



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

- نکته: يو کس د دې پخاطر د تابعيت ازموينه ورکوي چې معلومه کړي چې دی د هغه هېواد چې غواړي تابعيت يې واخلي د مهمو موضوعګانو په اړه پوهېږي او کنه.
- د تابعيت د ازموينې بېلګه:
- د امريکا د تابعيت ازموينه ۲۰ پوښتنې لري. د دغه هېواد د تابعت د اخيستلو لپاره يو کس بايد لږ تر لږه ۱۲ پوښتنو ته ځواب ووايي.

د پوښتنو نمونه:

1. به امريکا کې د دوه لويو سيندونو نومونه واخلئ.
2. په امريکا کې ستره محکمه څه ده؟
3. د امريکا په ختيځ ساحل کې کوم سمندر دی؟

- د خپل تصوري هېواد لپاره ۱۰ پوښتنې وليکئ، په اساس د هغه څه چې تاسو ډيزاين کړي او هرې يوې پوښتنې ته نومرې هم ورکړئ. د مثال په ډول،
- د **X** ملي ځاروی څه شی دی؟ (۱ نومرې)
- دغه ملي ځاروي له نورو څه توپير لري؟ (۲ نومرې)
- دا وټاکئ چې د څو نومرې په اخيستو سره به يو کس په ازموينه کې بريالي شي.

**۲۰ دقيقې**

- دغه کتاب د کورنۍ د يو غړي سره شريک کړئ دوی ته ووايه چې دا ولولئ او يا هم د دې معلومات تاسي ورته وړاندې کړئ.

**۱۰ دقيقې**

- د کورنۍ له غړو مو وغواړئ چې په ازموينه کې کېني، او دوی ته نومرې ورکړئ.
- آيا دوی په امتحان کې بريالي کيدلی شي؟ او آيا دوی کولی شي چې ستاسو د هېواد لومړني اتباع شي؟

## د ارزيابي معيارونه

- نقشه ډيزاين کړئ.



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

- پر نباتاتو، د حیواناتو پر تطابق او د جامو په انتخاب باندې د هوا او اقلیمي تاثیراتو پوهېدل
- د دوی د انتخابونو منطقي پرمختګ، توضیحات او توجیهات
- د ډیزاین او انتخابونو نوښت
- د فکر روښانتیا او د مطالعي د کتاب وړاندیز
- د ازموینې لپاره د پوښتنې د لنډیز کولو وړتیا

د ساده کولو لپاره اصلاح

- زده کوونکي کولی شي د خپل هېواد منلو لپاره د لاندې مختلفو کټګوریو څخه کټه واخلي.
- که چېرته زده کوونکي د محصولاتو او نباتاتو په اړه پوه ونه لري، دوی کولی شي په دې پورې تړلي فعالیتونه حذف کړي.



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7